مهالنۍ
ګڼه
د شينوارو خير ښېګڼې شورا نشراتي ارګان، ٥مه ګڼه، حوت ١٣٩٥ کال

**د خير ښېګڼې پيغام :**

هر بې ځايه شوی او کډوال دمرستو وړ دی.
موږ د شينوارو بې ځايه شويو او راستنو شويو کورنيو تـه دمرستو غوښتنه کوو.

# شينوارو د ستونزو حل مې لومړيتوب دی

سلاکار
لومړی
ښېګڼې
وړيدو پر
شوې

د موجودو
ستونزه نا

امني ده چې نه يوازې دخلکو ورځنی ژوند يې ورخراب کړی بلکط ټول هغه سکتورونه چې خلکو ته بېلابېل خدمتونه وړاندې کوي هم متاثره کړي او همدا لامل دی چې دغه سکتورونه په سمه توګه خپل خدمتونه نه شی وړاندې کولای.محمداصف شينواري په خپلو خبرو کې د شينوارو په حوزوي روغتون کې په شينوارو کې پر نشه يې توکيو دروږدو ځوانانو د درملنې په موخه ديو شل بستري ځانګې د پرانستې،په غني خيلو ولسوالۍ کې ديوې داسې ليسې چې

ليليه امکانات ولري او د نا امنو سيمو ځوانانو ته پکې دزده کړو زمينه برابره شي د جوړيدو،دجګړو له امله امله د بې ځايه شويو کورنيو سره د ورمرستو تر سره کولو او همدارنګه ددغو کډوالو يوه منظمه او کره سر شميرنه تر سره کولو او همدارنګه دراتلونکو ټاکنو لپاره دشينوارو سيمو ته ځانګړې پاملرنی غوښتنه وکړه،دشورا دمشرتابه بل غړوډاکتر محمد حنيف شينواري او دننګرهار ...... پاتې، ٣مخ



Ketabton.com

# پر ماشومانو

## د ټکنالوژۍ اغېزې


• قدرت الله هيوادپال

موږ عموماً ماشوم له لوبو او ساعتيريو سره تړو، فکر کوو چې تل لوبو ته خوشحاليږي او کور کوڅه يې پر سر راخيستي وي، چې ځينې وخت د نورو د عذابيدو سبب ګرځي، نو ځکه هغه ماشوم ښه دی چې وران نه وي، او په کور ناست وي، همدې کبله اوس د همدې لوبو

[redacted]

ي ټوپك په برکت... د ادب کور بـه هـم و خو
د کامې له برکته، د خوګيانو له برکته، د ښېوې
برکته، د مومندو له برکته او د هر هغه ورور قـوم
برکته چې زه يې د سر ساتنې په خاطر د ښار د
ن له ژونده وتلی پـه غـره کـې د هـر تـرهـه
ونکي مخ ته لکه سپر درېدلی وم.
زه، د شينوارو وطن د خپلو بچيو لـه خـاپوړو،
نيو او خنداګانو خالي يم، زما له سپين غر نه د
سۍ واورې الوتي، زه لکه تر نبوي سپېڅلي
د مخه سپيره حجاز... پر هره جلګه مې اوس
د يو پنجابي او غيره قبر دی، خو تر هر کاڼي
ې مې درې کاله د يو شهيد بچي، مظلوم او بې
ه شينواري د قتل وحشيانه کيسه تاريخ ته پټه
لي.
سي مرور طالب ورور، داعش، مـنـګـل بـاغ، د

دولسم او امامانو پر شپه هغسې راووژل چې نه يې زه کيسه کولی شم نه يې تاسې د اورېدو تاب لرئ. ما وژغورئ، زه وحشي نه يم، يـقـين وکـړئ مـا د وطن په تېرو ١٣ کلونو جګړه کې خپل ښوونځي پـر هلکانو او نجونو ډك وساتل، زما له هر ښوونځـي د الف الله او واو وطن غږ پورته شوی، انګازې يې لا هم د سپين غره په څوکه لګي، يوازې دا نه بلکې ستا د حفاظت لپاره مې هم زرګونه شينواري بچي د ملي ځواکونو په سنګر درته درولي.
ما داعش نه دی ساتلی، ما طالب نه دی ساتلی، ما هېڅ د وطن د دښمن د پښو خاپ پر خپله ځمکه نه دی پرې ايښی، زه د تاريخ جبر وهلی يم، زه د وطن د دفاع جګړې وهلی يم، ملي اردو زمـا د شهيدو شاه زلميانو دوووووووووومره لـوی لـيـسـت لري چې لوستل يې انسان ستړی کوي.






# د نامعلومي او بې پایلې جګړې قرباني شینواري

دشینوارو داخلي بې ځایه شوي او دمرستو ناسم مدیریت له دوه کالو ډیر ه موده کیږي چې دشینوارو په سیمو کې نا معلومه او بې پایله جګړه روانه دغې جګړې نه یوازې داچې دخلکو دورځني ژوند لوری بدل کړی بلکې زرګونه کورنۍ په داسي حال کې چې خپل دارو ندار یې هم په دغو جګړو کې له لاسه ورکړې بلکې دخپلو کورنو پریښود ته اړ شو ،دا جګړه ددې لامل شوه چې ددیرې،حجرې ،نامې جامې او دسترخوان خلک نورو ته په لاس غزولو اړ شي.دا زرګونه کورنۍ چې خپل ډک کورونه یې پریښودل دجلال اباد ښاراو نورو خواوشاه سیمو کې په داسې ځایو کې میشت شول چې اصلا د اوسیدو وړ نه دي .په تولو بشري اسماني او بشري قوانینو کې دا وړ خلک د مرستو او لاسنیوي وړ دي ،حکومت د خپل رعایت پر وړاندی هم همدا مسولیت لري چې په تنګسه کې لاس ورکړي ،دژوند کولو زمینه ورته برابره او مشکلات او ستونزې یې ورحل کړي خو په خواشینۍ سره دشینوارو له روانو جګړو څخه را بې ځایه شوي کورنۍ لا هم د حکومت او مرستندویه ادارو د مرستو لار څاري.داسې هم لیدل شوي چې دځینو ناچیزو مرستسو دویش پرمهال هم دمور میرۍ سلوک کیږي او هغوې چې زرو،واسطه او نوروې اړیکې ولري که کډوال هم نه وي د کډوالو په نوم مرستې تر لاسه کوي.ددې مرستو مدیریت له هماغه پیله ناسم و ،په سمه توګه دبې ځایه شویو کورنیو کره او هر اړخیزه شمیرنه تر سره نه شوه ،دهغوي لومړیتوبونه په پام کې ونه نیول شوی،دغو کورونیو ته تر ډیره دبشر په سترګه ونه لیدل شول او په دا تیرو دوه کالو کې یې د ژوندانه تر ټولو سختې شپې ورځې تیرې کړې او لایې هم تیروي.له مسولو چارواکو مو په ټینګه غوښتنه ده چې دشینوارو دبې ځایه شویو کورنیو یوه کره شمیرنه تر سره کړي، په تیر کې ددوې په نوم دشویو مراستو لټون وکړي، هر چاچې په دې برخه کې کوتاهي کړې او یایې ددوط حق خوړلی دهغوې سره قانوني چلند وکړي او دنورو مرستو دویش لپاره یو سالم میکانیزم رامنځته کړي. که دا ونه شي نو نه یوازی داچې ددغو کورنیو لاس به دمسولو چارواکو ګریوان ته ورسیږي بلکې د مدني حرکتونو تر سره کول هم ددوې قانوني حق دی او هیڅوک ترې دا حق نه شي تروړلاې .

د خیر ښېګڼې
اداره

# د ماتې کشتۍ سواره

• ابوبکر شینواري



په ماته کشتۍ سپور یم، توپانونه دي په مخ کې په دې لاره یې بیایم که وم، وم که نه وم نه وم

د ملتونو او ولسونو د عروج برجونه یو شی نه شي رانړولی مګر بې اتفاقي.... دې بې اتفاقۍ شینواری قوم د افغانستان په اوسنۍ جغرافیه کې له ۲۰۱۲ او یا هم له ۲۰۱۳ راهیسې د تاریخ تر ټولو زړه بوږنوونکې څپرکې باندې درولی دی.

تر دې مخکې وضعیت هم د یادولو وړ نه دی ځکه چې دا قوم د کرزي په دوره کې او تر دې ور ها خوا هم یوازې د بدې ورځې د یار په توګه ساتل شوی او پرته له استفادې ترې هېڅ بله توقع نه ده ساتل شوې.

کله چې د شینوارو افغان انسانان داعشي او مذهبي جنونیت پر بمونو کېنول او والوځول نو دا هغه وخت و چې د شینوارو قومونو د خیر ښېګڼې لټوونکو ځوانانو، روشنفکرانو، دردمنو او تعلیم یافته قشر یې یو تر بله وړاندوینه او اندېښنه په خپلو کې سره څرګنده کړې وه او له بحران نه د خپلو ولسونو د ایستلو ناستې یې زیاتې کړې وې مګر بې وسي لکه څنګه چې د شینوارو په سینه پرتو وګړو ته د غاړې غړوندی وه، دغه راز د شینوارو د خیر ښېګڼې ارمانجن هم د دې ارمانجن پاتې وو چې خپل خلک په یو ټغر راټول وویني او د لویو بدو ورځو په اړه یې د مقابلې تصمیم نیونې ته چمتو کړي.

غالبا د ۱۳۹۴ کال لومړۍ ورځې وې چې د خیر ښېګڼې په لټه راوتلي شینواري روشنفکران د شینوارو د خیر ښېګڼې شورا په رامنځته کولو او تګلورې له ټاکلو وروسته د ولس د خیر و رفاه په جهاد لاس پورې کړ.

خلک ټولنه په نومونو او لقبونو مخته وړي، خو شینوارو روشنفکرانو دا هم لازمه ونه ګڼله چې څوک دې د مشرۍ په تخت کېني؟ دا ځکه ونه شول چې تخت و نه؟ او د کار په کار کې د تخت او مشرۍ په نوم یو شي ته اړتیا نه وه، نو څه لپاره به وخت په تشکیلاتو لګول کېده؟

د شینوارو د خیر ښېګڼې شورا د یوې چاپي رسنۍ په ترڅ کې د خپلو فعالیتونو د ابلاغ ذریعه پیدا کړای شوه او هغه دا دی څو ګڼې پرله پسې له چاپ وروسته ستاسې لاس ته در رسي، په همدې مهالني اخبار کې پر شینوارو د څرګند تېري او ظلم غږ پورته کړای شو او په وار وار دشینوارو د فریاد د رسولو واقعي مسوولیت ادا کړای شو.

د شینوارو د خیر ښېګڼې شورا د حق العضویت پر پیسو د شینوارو په شپږو سیمو کې د وړیا کورسونو پرانیستې ته مټې رابډوهلې، چارواکو پورې د شینوارو د غږ رسولو مسوولیت یې واخیست، د شینوارو کادرونو لپاره د کار لټولو فرض ته یې اوږه ورکړه او په میاشت کې د دوه غونډو د برابرولو په هوکړې سره د مبارزې بېړۍ روانه کړه.



د شینوارو د خیر ښېګڼې شورا یوازې د ۱۳۹۵ کال په وروستۍ حوت میاشت کې درې غونډې وکړې، چې وکولای شي له مختلفو کمیټو څخه د شینوارو په بیلابیلو برخو کې ستونزې راټولې کړي او بیا یې د حل پر لارو چارو له غور کولو



سمدستي وروسته د عملي اقدام لپاره لاسونه سره ورکړي.

د شینوارو خیر ښېګڼې شورا د حوت د میاشتې په دریو غونډو کې مهمه موضوع همدا وه چې څرنګه د دوربابا، مارکو، اچین، نازیانو، غني خیلو په مختلفو نقاطو کې شپږ کورسونه جوړ شي تر څو د پوهنتونونو لپاره تابیا نیونکي ځوانان د کانکور د مسایلو او د سوالونو د کونجي ګانو حل لپاره وروزي.

همدا راز یوه بله بریالۍ پریکړه دا وه چې د حوت د میاشتې له دریمې ناستې د مخه د دې شورا رهبرۍ مقام د ننګرهار ولایت والي ته د شینوارو د شپږو ولسوالیو د ناورین په اړه سپینې سپینې خبرې ور ورسولې او په دې یې د محلي حکومت سر ورخلاص کړ چې شاید هر څوک ورته د شخصي منافعو د خوندیتوب په نیت هرڅه ووایي خو اصلي خبره دا ده چې د محلي حکومت او مرکز د نه پاملرنې په وجه د شینوارو هغه سیمه ده چې تر فوق العاده ګواښ لاندې یې خلک د ژوند تېرولو په معمولي اسره ژوند کوي او نور هیڅ نه لري.

هغوی ته چې؛

# کانکور

# په مخ کې لري!

ژباړه: حمیدالله حمیدي

لکه څنګه چې پوهېږئ، د افغانستان ښوونیز سیستم داسې دی چې د ښوونځیو له فارغینو څخه کانکور اخیستل کېږي چې د یوې ځانګړې کټګورۍ له مخې د خپلو اخیستو نومرو پر اساس ټاکلي پوهنځي ته بریالي کېږي.

دغه راز په دې وروستیو کلونو کې د کانکور په ازموینه کې ځینې ستونزې هم را پیدا شوې دي، هغه دا چې یو شمېر زده کوونکې د بډو د ورکولو له لارې د یو شمېر خاصو ښکېلو کړیو په مرسته له بېلابېلو لارو د سوالونو کیلي ترلاسه کوي او په پایله کې د هغه چا حق تر پښو لاندې کوي چې کلونه یې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ستونزې ګاللې دي. د دې لپاره چې دغه ډول ناوړه کارونو ته مو د پای ټکی ایښی وي او وکولای شئ پر خپلو قوي متو د کانکور ازموینه ورکړئ او د خپلې خوښې وړ پوهنځي ته بریالي شئ، لوړو زده کړو ته مو دوام ورکړئ، په دې لیکنه کې مو درسره ځینې لارښوونې او مشورې شریکې کړې دي، هیله ده عمل پرې وکړئ او د بل چا د بې ګټې همکارۍ په تمه پاتې نه شئ.

دا چې د کانکور ازموینه ستاسو لپاره یوه برخه لیک ټاکونکې موخه ده نو په اړه یې باید بېغوره پاتې نه شئ او تر وسه وسه مو خپلې هڅې وکړئ؛ ځکه دغه ډول چانس بیا تاسو ته په لاس نه درځي او که په لاس در هم شي؛ د پام وړ ګټه به ترې پورته نه کړئ؛ ځکه که خدای مه کړه سږ کال بریالي نه شئ او په دې تمه و اوسئ چې راتلونکی کال به بیا د کانکور په ازموینه کې برخه واخلم دا مو پر زیان ده؛ ځکه سږ کال تاسو روحاً او جسماً د کانکور لپاره تیاری نیولی او ډېر څه په خپل ذهن کې لرئ. دا چې تر راتلونکې کاله پورې به څه کېږي او څومره شیان به مو په ذهن کې پاتې وي او تر څومره روحي فشار لاندې به یاست، یوازې خدای پاک ته معلومه ده.

هر کانکور ورکوونکی په دې لټه کې وي چې څنګه وکولای شي له ۱۲ کلونو ښوونځي لوستلو وروسته خپلې برخلیک ټاکوونکې موخې ته ورسېږي، پوره هڅه کوي ټولې هغه لارې چارې وکاروي چې وکولای شي په کانکور کې بریالي شي.

د ځان لپاره د ښه لارښود موندلو په هڅه کې شئ تر ټوله ښه لاره دا ده چې عمومي فکر وکړئ؛ په وړو ښارونو کې د داسې کسانو پیدا کول چې وکولای شي د کانکور د پوښتنو او ځوابونو یا په ټوله کې درته د کانکور د اماده ګۍ لپاره پوره معلومات درکړي، ډېره اسانه خبره ده خو په لویو ښارونو کې بیا دا کار یو څه ستونزمن دی.


کوښښ وکړئ په دې برخه کې له هغه چا مرسته وغواړئ چې تېر کال یې د کانکور ازموینه ورکړې ده، ترې وپوښتئ څومره له خپلو لارښوونکو راضي وو، په داسې کورسونو پسې وګرځئ چې د کانکور د لارښوونې په اړه په کې درس ورکول کېږي، د همدغو کورسونو په اړه فکر وکړئ، تېر کال دغه کورسونه څومره توانېدلي وو چې په لوړه سویه زده کوونکي کانکور ته ور وپېژني. داسې کتابونه یا د کانکور لارښود درته وټاکئ چې تر ډېره په کې نوې پوښتنې ځای شوې وي؛ ځکه د کانکور سوالونه هر کال توپیر کوي او د سوالونو په بانک کې بدلون راځي. په دې اړه مو د خپل ښوونځي له ښوونکو وپوښتئ چې له دې وروسته په کوم کورس او یا له کوم استاد څخه د خپلو معلومات د زیاتولو لپاره په اړیکه کې شم؟

اوس چې د تکنالوجۍ زمانه ده، کولای شئ د کانکور د لارښود له سي ډي ګانو ګټه واخلئ په انټرنېټ کې د کانکور د لارښوونو په اړه ځانګړې پاڼې ولټوئ، له خپلو ذکي ټولګیوالو سره د ورځې په اوږدو کې په همدې اړه خبرې وکړئ او عملي کار وکړئ چې څه باید وکړئ تر څو د خپلې خوښې وړ پوهنځي ته بریالي شئ.

۱- تر هغه چې د کانکور ورځ مو را رسېږي باید لږ تر لږه پنځه ازمایښتي کانکورونه ورکړئ او په دې اړه بېلابېلې پوښتنې ځواب کړئ، تر څو په پوره ډول د اصلي کانکور لپاره اماده وی.

۲- پر دې باید پوه شئ چې کانکور یو ډول چانس دی، نه مسابقه. خپلې وړتیا ته په کتو مو ځان ته پوهنځی وټاکئ، دې ته مه ګورئ چې فلانې د ځان لپاره طب وټاکه، زه هم باید داسې وکړم، څه مو چې په توان پوره دي هغه څه درته وټاکئ. پر ځان پوره باور ولرئ، هېڅ کله هم پر ځان باور له لاسه مه ورکوئ، دا چې تر ډېره د کانکور ازموینه په افغاستان کې د ژمي په موسم کې راځي، پوره هڅه وکړئ ګرمې جامې واغوندئ او په جېب کې درسره د خوراک لپاره یو څه ولرئ، لکه چاکلېټ، کاکو او یا هم دې ته ورته بل خواړه، پر خپل نفس اعتماد پوره درسره مرسته کولای شي چې د کانکور پر مهال خپل فکري توازن وساتئ.

سهار وختي چې کله د کانکور ورکولو ځای ته ځئ، د هغه چا چې مور او پلار ژوندي دي، د خدای شکر وباسئ او د دعا غوښتنه ترې وکړئ او هغه چې مور او پلار یې وفات شوي، د لمانځه پر وخت ورته دعا وکړئ او له خدای پاک څخه مرسته وغواړئ؛ ځګه په ځلونو خدای پاک د مور او پلار په نسبت پر خپلو بنده ګانو مهربانه دی.




(c) ketabton.com: The Digital Library



## تېر وياړونه

• د فريد احمد وحيد ليکنه

# اروابناد حبيب الله زړه سواند څوک و؟!



خپله لاړ خو ځای یې اوس هم دمينه والو په زړونو کې دی

د هيواد وتلی شاعر او ليکوال اروابناد حبيب ا الله زړه سواند شينواری د اروابناد شهيد عمراخان زوي په ۱۳۲۱هـ ل کال کې د ننگرهار د هسکي مېنې دولسوالۍ د کذارې د کلي په يوې مخورې کورنۍ کې دې نړۍ ته سترگې غړولې وې.

اروابناد زړه سواند شينواري لومړنۍ زده کړې تر شپږم ټولگي پورې دهسکي مېنې ولسوالۍ د شپولي په ښوونځي کې او تر دولسم ټولکي پاتی زده کړې يې په حربي ښونځي کې سرته رسولې وې.

اروابناد حبيب الله زړه سواند شينواری په ۱۳۴۳هـ ل کال کې دکابل حربي پوهنتون نه فارغ شوی.

د لوړو زده کړو لپاره دوه ځله هندوستان ته استول واستول شو.اوبيايی د ژورنالېزم ډيپلوم د چکوسلواکيا د ( پراگ ) په ښارکي دژورناليزم د نړيوال سازمان اړوند د جوليس فوجيک له کالج نه لاس ته راوړ

اروابناد زړه سواند د ۱۳۳۹هـ ل کال راهيسې لنډې کيسې او شعرونه ليکل پيل کړل. د شاوخوا دوولسو منثورو او منظومو أثارو ليکوال، شاعر او ژباړونکی شو. اثارويې څو څو واري ادبي جايزې اخيستې او ځيني اثار يې بهرنيو ژبو ته هم ژباړل شوي.

د ۱۳۴۳هـ ل کال څخه تر ۱۳۵۵ هـ ل کال پورې يې د پکتيا په پوځي ځواکونو کي دنده سرته رسولي. د خپلي دندې تر څنگ څوکاله د عبدالحي گرديزي په ليسه کي د پښتو د ادبياتو استاد و، د ۱۳۵۵ هـ ل کال نه تر ۱۳۷۱ هـ ل کال د حمل ۱۷ نېټې پورې يې داردو د خپرونو په لوي رياست کي بيلابيلې نشراتي دندې سرته رسولې.او څه موده په حربې ښوونځي کي د پښتو د ادبياتو استاد و.

نوموړی د ۱۳۷۱ هـ ل د حمل په ۱۷ نېټه متقاعد شو.

د اروابناد حبيب الله زړه سواند شينواري د ليکنو او شعرونو په اړه د نوموړی ډېری مينه وال، کره کتونکي او اديبان په دې باور دی، چې په رښتيني مانا د زموږ د وران او ځپل شوي هيواد او مېړني او اتل ملت د ځوکلني غمېزي د حالاتو هنداره ده. هغه به تل د وخت ظالمانو ، هيواد پلورونکو او د پرديو مزدورانو ته د نيوکې گوته نيوله.

په لنډو کې د نوموړي په اړه دومره ويلی شو، چې اروابناد زړه سواند لکه څنگه چې يې پر ځان د زړه سواند نوم ايښی و، همداسې يې د خپل ملت پر غميزو زړه سوځيده او همداسې زړه سواند ومړ.

د هېواد تکړه شاعر، ژورناليست او ليکوال حبيب الله زړه سواند شينواری د شا او خوا ۷۰ کلنی په عمر (د ۱۳۹۴/۱۰/۲۶هـ ل، ۲۰۱۵/۰۱/۱۶ع) دشنبي په ورځ له دې فاني نړۍ د تل لپاره سترگې پټې کړې او تر شا يې غمجنه کورنۍ، لسگونه ادبي او هنري آثار، زرگونه مينه وال او لوستونکي پريښودل، رب دې يې جنتونه ځای، اويادونه تلپاتي لري!

د ارمانونو هديره!

چي په سرو وينو يې ستا لمنه ســـره شوه
زما زړه دارمانونو هـــــــديـــــــره شوه
له وربل يې د باروتو لوگي جگ شــــــول
په کنډو، کنډو ديوال چي رابنکاره شـوه
د ښايست اوميني زور ورته معلو م شــو
اييني کي چي د ځان په ننداره شــــــــوه
چي شيندل به يې گلان په سرو لـــښکرو
ترينه پاتي څه بدرنگه خـــاطــــره شـــوه
ښاپير وبه پکي سترگي تـــــوورولــــي
درنگو نو دا باغچه څنگه خاره شـــــــوه
ستر حمزه پکي کرلي دي غــــــــزلــــي
سندريزه د خيبر هـــــره دره شـــــــوه
چي يې (ژبو) چينارو لانـــــــدي اتڼ کړ
د پرديو په گوليو ورانـــــه مو ديره شوه
داغيارله کلي يـــــار پـــري ډزي وکړي
ځوانيمرگه د زړه سواند دزړه اسره شوه

**ننگرهار والي د شينوارو د ستونزو... پاتې**

پوهنتون استاد عبدالطيف مل شينواري بيا په دولتي ادارو کې د شينوارو دونډې دنه شتون او دغه لوري ته د ځانگړې پاملرنی کولو غوښتنه وکړه،دولسمشر سلاکار او ننگرهار والی محمد گلاب منگل چې د ناستې د برخه والو ټولې غوښتنی يې په سړه سينه واوريدې په خپلو خبرو کې لومړی شينوارو د خير ښېگڼې شورا د جوړيدو او فعاليتونو له امله خوښي وښوده په خپلو خبروکې وويل په ننگرهار کی يې دخپل ماموريت له پيل راهيسې د شينوارو په سيمو کې شته ستونزو ته دحل لومړيتوب ورکړی او هڅه کوي دا سيمه له روانو تاوجنو حالاتو راوباسي ،هغه له حکومت سره د ستونزو په حل کې د خلکو او قومونو همکاري اړينه وبلله ويی حکومت په يوازی سر هيڅ هم نه شي کولاې،دننگرهار روالي په دغه ناسته کې مطرح شوې ټولې ستونزې او وړانديزونه پر ځای وبلل او دهغې د حل ډاډ يې ورکړ ، دننگرهار والی دناستې پرمهال د عامې روغتيا ريس ته تليفون وکړ او ورته يې د غني خيلو په روغتون کی پر نشه د روږدو ځوانانو د درملنی په موخه دځانگړو اسانتياو د برابرولو جدي سپارښتنه وکړه.والي همدا راز وويل تر هغې چې د يولې ليله ليسې لپاره امکانات برابريږي په کابل کې به په عبدالرحمن بابااو خوشحال خان ليسو او انستيتوت کې د شينوارو شپږ سوه ځوانانو ته دزده کړو اسانتياوبرابرولو کې مرسته وکړي.ننگرهار والي همداراز په دولتي ادارو کې دشينوارو د کدرونو په گومارنه کې هم دمرستې ډاډ ورکړ او دشورا مشرتابه څخه يی د وړ او مناسبو کدرونو د ورمعرفي کولو غوښتنه وکړه.هغه همداراز دهسکی مينی او اچين ولسواليو له بی ځايه شويو او اړمنوکورنيو سره دمرستو ژمنه هم وکړه ويې ويل يو پلاوي ته به دنده وسپارې چې به دې برخه کې کره معلومات راټول کړي.دننگرهار والي د ناستې په پای کې شينوارو د خير ښېگڼې شورا له مشرتابه څخه په راتلونکي هم دورته ناستو تر سره کولو او پکې دستونزو او حل لارو د وړاندې کولو هيله وکړه او ژمنه يې وکړه چې په راتلونکی کې به دولايت په کچه په هر ډول مشورتي ناستووکې شينوارو دخير ښېگڼې شورا دمشرتابه پلاوي ته دگډون بلنه ورکوي

**زه شينواری يم ماته هم غوږ شئ ... پاتې**

زما مومنده! زما خوږيانيه! زما د وطن په هر گوټ کې زما پر حال ژړېدونکيه! زما پر کليمه شريك وروره! ماته لاس راکړه....

ما وژغوره! زما عزت ستا عزت، زما پښتو ستا پښتو، زما خاوره ستا خاوره، زما کور ستا کور، زما وير ستا وير، زما جنازه ستا جنازه، زما شهيد ستا شهيد، زما تاريخ ستا تاريخ، زما وياړ ستا وياړ او بالاخره زما شرم ستا شرم دی.

ماته لاس راکړه! ما وژغوره! زه د نړيوال وحشت پنجرې ماتول غواړم، زه يقين وکړه ځان نه تاته ډېر خپه يم، دا وحشت ما هم ختموي او تا به هم رانه وخوري! دا وحشت تپل شوی وحشت دی، دا د ناسم سياست وحشت دی.

زما په خاوره د يوې کلمې تور بيرغ د بلې کلمې له سپين بيرغ سره اړم دی، زور يې له ما وخي.

زما په خاوره درې اسلامه دي، زه مجبور يم، هره ورځ هر اسلام ته نکاح تازه کوم، زه د يو اسلام په تلو او د بل اسلام په راتلو غسل کوم، کليمه وايم او ايمان نوی کوم.

زما په اړه د حق ژبې گونگۍ دي، زما په خاوره مېشت بچيان ډوډۍ، چای او په کاله کې اوړه يا د مړي کفن نه لري نو احساس له کومه کړي؟

زما بچيان چې کوم وحشت خوړلي، نو هغوی به څنگه د وحشت په وژلو پسې راپورته شي؟

راشه ما وژغوره! زما د بچيانو مکتبونه خالي دي... زما په دېرو کې پردي خلك زما له تش شکور نه د ډوډۍ معجزه غواړي، زه يې له کومه کړم...؟؟

زما د شنو بخملي غرونو د شرشره لښتيو موسيقۍ ته د پيکا او کلاشنکوف وچ غږ د جگړې مرداره سندره وايي، دا سندره خاموشه که، زما په خاوره د طبيعت، موسکا بيا خورول غواړي، زه ځان نه شم ژغورلی، خدايي زما ننداره کوي، زما په خاوره نوی زېږېدلی ماشوم دوه پړقه شکول کېږي، زما په خاوره تروريست خپل مړي پر ما ښخوي او له سنگره يې راباندې د دې لپاره راوړي چې خپله له ډرون بچ شي او ډرون ما په نښه کړي، زما په خاوره د واده وريجې د کورنۍ خپلوان نه خوري سنگريان يې خوري، زما په خاوره د وطن د ودانۍ جرگه خوندي نه ده، د وطن د ويجاړۍ مورچه خوندي ده.

نو ما وژغوره! زمانه بدله کړه! ۱٦ کاله وړاندې بدله شوې پېړۍ او تاريخ اوس بدل کړه، خپل ژوند هم وژغوره او پر ما هم احسان وکړه، ژوند دې په گلو، وريښمو او رنگونو کې پټ شه!

**پر ماشومانو د ټکنالوژۍ اغېزې... پاتې**

د اعتياد يو اصل دادی چې روږدی خپله خوښي موادو ته د لاسرسۍ پر تله تلي، که د روږدتيا وسيله ورسره وي نو خوښ وي او که نه، نو بيا مو الله مل شه.

۲. سلوکونو بدليدل، قهريدل

که چيرې ماشوم د ټکنالوژۍ وسيله ډېره وکاروي، نو يو ډول اړيکه ورسره جوړوي، د ټکنالوژۍ وسيله ورته له اړتيا ډېره مهمه کيږي، او که چيرې ترې واخيستل شي، نو په قهريږي، او هر هغه څوک يا کار يې بدی راځي، چې د ده او دې ډيجيټل وسيلې په منځ کې راځي، د ماشوم سلوک هغې وسيلې ته د لاسرسي په تله تلل کيږي، هر کله چې ورسره وسيله وي، لوبی پرې کړي آرامه او خوښ وي او که کله ترې دا وسيله واخلئ نو هغه نارامه او په قهر وي.

۳. د ماشوم له مور/پلار سره سلوک بدليږي

ځينو ځېړنو دا هم ښودلې ده هغه ماشومان چې ډيجيټلي وسيلې ډېرې کاروي له مور پلار سره يې سلوک هغوی ته چې دا وسيلې نه کاروي بدل وي، هغوی چې دا وسيلې کاروي له والدينو ليرې احساسيږي، بې مينې نه خو له اړتيا پرته والدينو ته نه راځي، ورسره داسې احساسيږي چې د خپل مور پلار مينه يا سلوک پدې تلي چې څومره وخت يې د ټکنالوژۍ له وسيلې سره پريږدي، ورسره دا هم گڼل کيږي چې ځينې وخت د ډيجيټل وسيلې لوبغاړي ورته د مور/پلار ځای نيسي.، او د هغوی د سلوکونو او کړو وړو په رڼا کې له خپلې مور پلار سره مينه تلي.

۴. ټولنيزې اړيکې او راشه درشه

نه يوازې ماشومان بلکه مشران هم که د ټکنالوژۍ وسيله ډېره وکاروي نو ټولنيزې اړيکې او سلوکونه يې په منفي ډول اغېزمن کيږي، هغوی چې له اړتيا ډېر وخت له دا ډول وسيلو سره تيروي، مخامخو خبرو/ راکړه ورکړو کې ضعيفه، بې جراته او ځينې وخت په ساعتونو له خپل ځايه نه پاځيږي، ورسره ټولنيز سلوکونه له وخت سره زده کيږي، څومره چې يو څوک له ټولنې يا خلکو ليرې وي همدومره يې دا سلوکونه ضعيفه پاتيږي، او کله کله خو نور هم ضعيفه شي.

ورسره دا هم گڼل کيږي، چې د ټکنالوژۍ وسيلو ډېر کاروونکي ځينې وخت له نورو ماشومانو ډېر جگړه کوونکو او شخړه ييز وي، د روږدتيا يو سلوک د ناځاپه احساساتو ښودل دي، يو دمي په قهريږي او فزيکي گوزارونه هم کوي، چې دا ډول سلوک پخپله د ټولنيزو اړيکو د ضعف او کمزورتيا سبب گرځي.

۵. فزيکي ستونزی

د دې وسيلو ډېر استعمال د سترگو، ملا، څټ او ذهني ودې ستونزې هم پيدا کوي، که چيرې يو چا ډېر وخت لپاره يوې وسيلې ته په دوامداره توگه سر ټيټ کړی وي، نو طبعاً چې پر څټ منفي اغېزه کوي، ورسره که چيرې تل ټلويزون، موبايل، ټيبليټ يا کمپيوټر ته وگوري نو پر سترگو هم ناوړه اغېزه کوي، بيلابيلو څېړنو ښودلې چې د ټکنالوژۍ وسيلې رڼا پر سترگو، خوب او ذهن ناوړه اغېزه کوي، او ضرور ده چې لس - پنځلس دقيقې استعمال وروسته يو څوک پام بدل کړي.

ورسره که چيرې ماشومان مناسب فزيکي فعاليتونه ونه لري، نو کيدای شي چې په راتلونکي کې د ملا او نورو فزيکي ستونزو سره مخ شي، ورسره ذهني وده يې هم سستيږي، او د انعکاس او پر خبره پوهيدلو توان يې اغېزمن کيږي.

ښه نو اوس به واياست، چې دومره به هم بده نه وي، هو په اصل کي ټکنالوژي بده نه ده، خو د عمر او استعمال پر اساس بايد برابره شي، د ټکنالوژۍ ناوړه اغېزو کمولو لپاره عموماً درې پړاخه وړانديزونه کيږي:

- د ماشوم عمر: د ټکنالوژۍ استعمال له عمر سره مستقيمه اړيکه لري، بيلابيلو څېړنو ښودلې چې له دوه کلن کم عمره ماشوم بايد د ټکنالوژۍ هيڅ وسيلې ته لاسرسی ونه لري، يا يې هيڅ ونه کاروي، خو ورسره دا ويل کيږي چې که چيرې نږدې خپلوان لکه مور/ پلار/ نيا/ نيکه يا نور يې ليرې اوسيږي نو ويډيو زنگ يا له غږيدا سره د ويډيو ليدل د دې لپاره د هغوی پيژندلو کې مرسته کوي، خو دا استعمال هم بايد وڅارل شي او مشر د غږيدو پر وخت ماشوم پوه کړي، لدې پرته له دوه کلن کم عمره ماشومانو لپاره د ټکنالوژۍ وسيله بايد ونه کارول شي.

له درې کلنه تر شپږ کلنو لپاره د ټکنالوژۍ استعمال څارل کيږي، ورسره هغه څه چې مشران کاروي بايد دوی يې ونه کاروي، که چيرې لوبی کوي، له چا سره غږيږي، انټرنيټ کاروي، ټول بايد وڅارل شي، او وکتل شي چې نامناسبه ژبه، محتويات يا ملگري ورسره پکې نه وي، اکثره وختونه له داسې استعماله ماشومان ډېر عادتونو خپلوي، هڅه بايد وشي چې دا عادتونه منفي نه وي.

له اووه کلنه تر ديارلس کلن ماشوم له ډېرو فزيکي او رواني تغيراتو تيريږي دا ماشومان ځوانۍ ته اوړي، نو ځکه سره لدې چې ځاني تغيرات همويني، سلوکي تغيرات هم پکې راځي، او غواړي د مشر يا پوه په توگه ورته خلک وگوري، ځان ته نور ماشوم نه وايي، نو ځکه غواړي آزاده شي، دلته مور/پلار لپاره مهمه ده چې مناسبه آزادي ورکړي، خو که چيرې د ټکنالوژۍ وسيلې په کارولو کې ستونزه لري، يا نورو جنجالونو سره مخ کيږي بايد پوه شي چې له چا سره وغږيږي، ورسره دلته هم د ټکنالوژۍ استعمال بايد وڅارل شي، او اړونده قيودات واوسي.

له ديارلس کلن لوړ ځوانان نور پوهيږي چې د مور/پلار له قيوداتو ځان څنگه خلاص کړي، او عموماً ښوونځيو کې يې دومره څه زده کړي وي چې خپل سلوک خپله کنټرول کړي، خو دوی ته بايد دوامداره وويل شي چې که ستونزه ولري بايد له چا سره وغږيږي.

- توازن: د ټکنالوژۍ استعمال بايد د ټکنالوژۍ له نه استعمال وخت سره متوازن واوسي، نه يوازې ماشومان بلکه مشران هم که ډېر وخت پر چوکۍ کښيني، او فزيکي فعاليتونه ونه لري نو کيدای شي چې روغتيايي ستونزې ورته پيدا شي، مهمه ده چې د ماشوم د ټکنالوژۍ/ ټلويزون ليدلو وخت بايد له فزيکي لوبو او منډو سره متوازن حالت کې واوسي.

- اړونده ټکنالوژيو او وسيلو موندل/عيارول: د ټکنالوژۍ گړندې پرمختگ دا باوري کړل چې د هر چا ذوق او شوق لپاره يو څه واوسي، د ټکنالوژۍ څېړنې ښيي چې له درې کلنه تر نهه کلنه ماشومانو لپاره د ټکنالوژۍ وسيلو برابرولو صنعت يو تر ټولو مخ په وده سکتور دی، پدې کې لوبې، زده کړه ييز پروگرامونه، فزيکي وسيلې او نور ټول شامل دي، هڅه وکړئ خپل ماشوم ته د هغې له ذوق سره سم وسايل پيدا کړئ، که تاسې د کمپيوټر يا موبايل لوبې کاروئ مهمه نه ده چې هماغه خپل ماشوم ته هم ورکړئ. د هغې عمر ته پر کتلو خپله وسيله عياره او له ذوق سره يې ورته برابر کړئ.

داسې گڼل کيږي چې د هر يو کال پر تناسب ماشوم پنځه دقيقې د تمرکز توان لري، يعنې يو کلن ماشوم پنځه دقيقې تمرکز، دوه کلن لس دقيقې، او همداسې يې ورډېروئ، نو ځکه ماشوم چې څومره کوچنۍ وي همدومره پر يو څه ډېر تمرکز نه شي کولای، او دا نه تمرکز د هغې د ودې او پرمختگ سبب گرځي، ځکه بايد ډېر څه زده کړي، کله به ورانی کوي، کله به منډې وهي، کله به مو غيږ ته درځيژي، کله به درته وايي چې گران يې، کله به درته په قهر وي، خو دا هر څه د ماشومانو بيلابيل سلوکونه او توانونه رامنځ ته کوي، د ټکنالوژۍ ډېر استعمال يا له څارنی پرته استعمال نقص دادئ چې د ماشوم دا د طبعي ودې دوران خرابوي، وسيله يې د خپلو بدليدونکو رنگونو، غږونو او نورو پر کارولو له ځان سره بوخت ساتي، چې په اوږده کې د هغوی د فزيکي، رواني او عقلي ستونزو سبب گرځي.

ټکنالوژي په خپل ذات کي بده نه ده، کولای شي ډېره ښېگڼې راوړي، خو دې وسيلې ته بايد د مور/پلار، ټولنيزو اړيکو، فزيکي فعاليتونو، لوبو، خوراک او نورو مهمو او حياتي مواردو بديل په توگه ونه کتل شي، پر ځای، مناسب او څارل کيدونکی استعمال يې د ماشوم په ذهني وده او زده کړه کې ډېر مهم رول لوبولای شي.

+++++++++++++

**يادونه:**

**خير ښېگڼه مهالنۍ د شينوارو ولسونو د بااحساسه قلموالو په معنوي مرسته خپرېږي.**
**ستاسې د ولس ستونزې بې حسابه دي، لطفا خپل قلم مه ږدئ او له موږ سره په گډه قلمي مبارزه پيل کړئ، خير ښېگڼه ستاسې ليکنې د حق د غلبې په نيت نشروي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# khair khegana

د امتیاز څښتن: د شینوارو د خیر ښېګڼې شورا

مسوول مدیر: حبیب الله لوراند ۰۷۸۹۴۴۱۳۴۱
Habib.lawrand@gmail.com
مرستیال مدیر: سید جاوید شینواری ۰۷۸۱۸۲۰٦۹۷
javidshinwarai@yahoo.com
یادونه:
په پورته ادرسونو او شمېرو، د خپلو اعلاناتو لپاره تماس نیولی شئ.

## زمونږ سیمې

## زمونږ کلي



• میوند درځار شینواری

# شینواري د عسکرۍ میدان

د عصري کتابتون او مجهز لابراتوار شتون یو خیال وګرځېد، مېز او څوکۍ یې، ټول اداري کتابونه او دوسیې د اطاق په مینځ کې تیت او پرک پراته وو، دروازې او کړکۍ یې ماتې کړي.

دا د هسکې مېنې د یو ښوونځي د ملازم خبرې وې چې خپل مدیر ته یې وکړې۰ ماته د هغې لېسې په سلګونو شاګردان، مجهز لابراتوار او کتابتون او دوه بابه عصري تعمیرونه سترګو ته ودرېدل چې اوس یې په هغه ډول شتون تش تصور و۰

درې کاله مخکې په دغه سیمه کې د تازه راپیداشوې وسله والې ډلې داعش لخوا د پولیو په واکسین بندیز ولګېد او دا زمونږ د بدبختۍ پیل نه و۰ځکه تردې وړاندې طالب د ترخیص شوو سربازانو د تسلیمۍ پروسه پیل کړې وه۰

چینګۍ له ګورګورۍ وړاندې د یو بل جنتي غرني کلي نوم دی، چرته چې مونږ اته نهه کاله پخوا د دوستانو د لیدو په بهانه د جوزا له ګرمۍ پناه وړې وه او شپه مو له کوره وړاندې د یوې نسبتاً لوړې غونډۍ په سر په دوه برستنو کې تېره کړه۰ اوس هغه خلک د جلال اباد ښار ښکلا ده او کورونه یې تشې کنډرې۰

هسکه مېنه کې د طالب شتون هغه وخت تایید شو چې د یوه واده په مراسمو کې یې له الوتکو ځانونه پټ کړل، خو ړندې بمبارۍ د واده ګډونوال هم د تورو خاورو خوراک کړل۰

دا پېښه ددې سبب شوه چې د وخت ولسمشر پخپله دې سیمې ته ورشي او د امنیت راوستلو او ځینو پرمختیایي پروژو د تطبیق وعدې وکړي۰ولس د قیر سرک خاوند شو، روغتیایي مرکزونه یې مجهز او د راپیداشوې ستونزې په لنډ مهاله حل خوشاله شول۰ حلقوي سرک هم لدې سیمې تېر شو، اکثره منځنیو ښوونځیو لېسو ته ارتقا وکړه او د نجونو زده کوونکو شمېره ډېره شوه۰ خووروسته بله نوې ډله راغله ښوونځي او روغتیایي مرکزونه له یوې مخې تړل، دولتي مامورین نیول، د هر شکمن کس سر غوڅول او د نکاح ګانو تازه کول ددوی لومړیتوبونه دي.

خودهغوټولونادودو اوظلمونو وروسته اوس په هغه کلیو کې دومره څوک نشته چې د قبر په کیندلو کې خپلو نورو څلورو کلیوالو ته دمه ورکړي۰


د بې کوره شوو کډوالو ژمی په کمپونو کې تر شنه اسمان لاندې تېر شو او ډک کورونه یې د داعش د ځپلو په نامه بمبار شول۰

دولت دا ځل هم د تېر په څېر نمایشي پوځي عملیات وکړل او ددوی تر راستنېدو څو ساعته وروسته وسله وال، د هسکې مینې، ښار ته تر ټولو نږدې کلي ته راورسېدل۰

نن سبا شینواري، د عسکري تمرین میدان دی۰



## هسکه مېنه یا ده بالا ولسوالي



یاده ولسوالۍ چې له نوم څخه معلومیږی ډیری سیمې یی هسکې یا پورته پرتې دي دجلا ل اباد ښار جنوب لورته دسپین غره په ښایسته لمن کې پرته ولسوالۍ ده په تیرو کې یی دامنیت له پلوه یوه دننګرهار دارامو ولسوالیو له ډلې وه خو په وروستیو کې یوه دنارامه ولسوالیو له ډلې ده چې ځیني سیمې یی دداعش اوځیني اوس دطالب وسله والو تر ولکې لاندي دي .

دغه ولسوالۍ دسمندر له سطحې ۱۴۷۵متره لوړه پرته ده چې دشمال عرض البلد ۳۴ درجو او۷ دقیقو اودختیځ طول لبلد په ۷۰ درجو او۳۷ دقیقو ترمنځ پرته ده .


یاده ولسوالۍ ۴۸۵ کیلو متره مربع مساحت لري اودجلال اباد ښار څخه ۴۰ کیلو متېره لرې پرته ولسوالې ده .

دهسکی مینی ولسوالۍ ۱۵۰۰۰۰ زره نفوس لري لس غټې او ٦٦ وړې قریي لري شمال ته یی چپلیار سهیل ته یی کرمه ایحسنی لویدیز ته یی پچیراګام او ختیځ ته یی دروادتو ولسوالي ده څلور اساسی روغتیایی مرکزونه لری شپوله پاپین افز او هسکی مینی له جلال اباد څه په ۵۵ کیلومتره واتن کې پرته ده ٦٦ کلیوالي شوراګانی پکی جوړی شوی ۹لیسی ۴لومړنی او ۷منځني ښوونځي ۴دینی مدرسی یوه دکرنی لیسه یو کثیرالرشتوی انستیوت لری دسپین غره ځنګل او شوکاڼی یې طبیعی زیرمی دي جوا غنم او شولی پکی کرل کیږی ۲۵ کیلومتره د ډیورند پوله له همدی ولسوالۍ سره نشتی ده دشینوارو دری خیلونه حسن حیل حمزه خیل او الیاس خیل چې په ټوله کې مندیزی بلل کیږی په همدی ولسوالي کی میشت دی پیژندل شوی ځیری جی وفات ظویدی معتمد شینوار کمال شینواری دوست شینواری مولوی محمود درسوال غلام جان حګر شینوار دری مشهور زیارتونه لری مریز میاجی بابا پاپین زیارت او شپولی میرنو زیارت

ددي ولسوالۍ فزیکې جوړښت

زیاتره برخه یی غرونو او غونډې ګانو نیولی او مشهور خوړیی دهزار ناو په نامه یادیږې چې دسپین غر دلوړو څوکو څخه سرچینه اخلې چې هزار ناو خوړ بیا دوه کوچني مرستیالان لري چې لومړی مرستیال یی داوغز خوړ دی چې دمیاجی بابا زیارت سره نږدی ددې خوړ سره یوځای کیږي اوبل مرستیال یی دریمیجې په نامه دی چې دګورګورې په سیمه کې دنوموړي خوړ سره یوځای کیږي مالدارې اوکرنه

ددې ولسوالې حاصلات لکه غنم جوار شولې لوبیانسک ګدن اونورسابه لرونکې سبزیجات دي



## خالد هلال د وینځونکوتوکو تولیدي شرکت

خالد هلال د وینځونکوتوکو تولیدي شرکت له دوه کالو راهیسې هیوادوالو ته ښه کیفیت وینځونکو توکي لکه د جامو وینځلو پوډر، د لوښو او جامو وینځلو شامپو [مایع ظرف شویی] او ځان وینځلو صابون تولیدوي .

که غواړئ ښه کیفیت وازمایئ نو یواځې هلال وینځونکي توکې انتخاب کړی

مسولین: قاضی خالد شینواری اوقاضی بخت الله شینواری

داړیکو شمیرې:۰۷۷۵۷۱۷۱۸۰ ۰۷۸۸۹۸٦۷۵۰

ادرس جلال اباد ښار کلچو کوڅه د حاجي ګنډیري مارکیټ



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**